د حمل میاشت ۱۴۰۴

**لومړۍ برخه:**



# د سیمې په کچه حکومتي جوړښتونه، د سیمه ییزې حکومتولۍ موډلونه

## د افغانستان لپاره ترینه ساختاري اخېستنه او قابل تقلید اړخونه یې

**محمدآصف ننګ**، له پکتیکا څخه

د اقتصاد څېړندوی مشر

د دنیا په کچه په مډرنې حکومتولۍ کې داسې دولتي او حکومتي جوړښت نشته چې د «اړتیا او مفیدیت» پر بنسټ نه وی جوړ شوي، اړتیا ده چې جوړښتونو ته رنګ او ډول ورکوي...او مفیدیت او موثریت ده چې نظامونو ته تداوم ورکوي. د واک او اقتدار د ساتنې او تداوم لپاره کم له کمه  د هغو عناصرو او فکتونو پیژندنه حتمي او ضروري ده چې د ملک د دوام، رفاه او د دولتونو د استحکام باعث کیږي.

معمولاً د نظام معروف ډولونه، هغه ریاستي، پارلماني، مختلط پارلماني او ریاستي، لیبرال دیموکرات، فدرالي، سلطنتي، شاهي، مشروطه شاهي او...دېته ورته...مګر مذهبي او ایدیولوژیک نظامونه په نړۍ کې اوس چندان نشته، البته هغه نظامونه چې د کوم ځانګړې منشور او قانون لرونکي ندي پر هغو دلته د بحث ګنجایش نه لیدل کیږي، دلته زه پر متعارفه نظامونو خپل بحث تشریح کوم.

له بل اړخ نظامونه د صلاحیتونو له پلوه یا ډیر زیات مرکزي دي چې په شکلي او نمایشي توګه یو لړ صلاحیتونه خپلو اجرائیوي، مستقلو یا محلي او ایالتي ادارو ته ورکوي خو په افغانستان کې دغه موجوده او د تیرو جمهوریتونو دا ډول محدود، شکلي او مقیده صلاحیتونه قطعناً د حکومتولۍ د چارو لپاره او هم د متوازن انکشاف لپاره ځوابده ندي، لکه د افغانستان جمهوري پخوانی نظامونه...خو ځیني ریاستي نظامونه شته چې واکونه یې سیمه ییزه حکومتولي ته هم تفویض

کړې، په ایران کې سره لدې چې واک شدیداً د «رهبر» او ولایت فقیه تر چتر لاندې را ټول شوی، خو بیاهم په تدریجي توگه سیمه ییزه ادارو ته یو زیات شمیر واکونه انتقال شوې دي چې تشریح یې بیا وروسته راځي.
پدې بحث کې مې د نمونې لپاره د ایران او پاکستان پر حکومتي جوړښتونو او تر یوه حده د چین پر حکومتي موډل هم تمرکز کړی، ځکه چې د دغو اولو دوو شرایط غالباً زمونږ شرایطو ته ورته والی لري، گډ کلتور، گډ دین، گډه ژبه، گډ تاریخ او...مگر د چین حکومت بیا د ودې لپاره د سالار او سرلارې یوه بېلگه ده!
د دولتي جوړښتونو یوه بله تشریح دا ده چې، دولتونه باید درې مشخصې ولري، د قانون دولت، د ملتونو دولت، مشروع اقتدار یا د دولت مشروعیت. لدېنه ماسوا هر دولت په افقي لحاظ او هم په عمودي لحاظ د جوړښتونو له پلوه داسې جوړ شوې تر څو وکولی شي هغه لازمي ماموریتونه چې د ملي لومړیتوبونو په حیث ورته وضع شوي هغو ته لاسرسی پیدا کړي او ضمناً د دولتي چارې او سلسله مراتب یا اوبدون باید په افقي او عمودي لحاظ له پورته ښکته، له ښکته پورته او د اداراتو پخپلو کې یو د بل ترمنځ سره غاړه غړی ورکړي.

دغه د افقي او عمودي تسلسل په هکله او دا چې نظامونه څنگه ورسره چلیږي ځیني بحثونه او تفاوتونه شته، په مسلکي دولتدارۍ کې تسلسلي چارې او پلانگذارۍ له ښکته پورته راځي، د تایید لپاره د دولت مشرتابه ته وړاندې کیږي، خو په خودکامه او مستبدو دولتونو کې دغه تسلسل بالعکس له پورته ښکته راځي او غالباً د اوامرو او دستوراتو په شکل د حکومتي ادارو لخوا عملي کیږي.
همدارنگه په مسلکي دولتدارۍ کې په افقي توگه د ادارو تر مینځ چارې او صلاحیتونه په منطقي او متوازن شکل اعمال کیږي، یعني د نتایجو پر بنسټ، چې دا یو بهترین روش دی.

د افغانستان د نظامونو جوړښتونه او دولتي تشکیلات او همدارنگه د واکونو او اوامرو تسلسل له ابتدا څخه تر نن پورې ډیر جدي مشکل درلودلی چې طبعاً جدي او بنیادي اصلاحات غواړي، مخکې لدې چې خپله د اصلاحاتو او د حکومتولۍ په هکله خپله طرحه وړاندې کړم، غواړم د افغانستان د دوو گاونډیو دولتي او حکومتي جوړښتونو او د واک تطبیقي هرم تشریح کړم. د دې بحثونو په وروستۍ برخه کې به خپله نمونوي طرحه هم وړاندې کړم...خو په دې تسلسل کې لومړی د پاکستان، بیا د ایران او مختصراً د چین موډل هم وړاندې کوم.




## د پاکستان سیاسي جوړښت

د پاکستان سیاسی جوړښت له یو لړ ساده پېچلتوب سره په عموم کې یو جمهوري حکومت او ولس سالاره نظام دی چې د مختلفو بنسټونو، سیاسي احزابو، بروکراته مقاماتو او د څو نسبتاً خپلواکه فدرالونو او د درېګونو قواو تر منځ د صلاحیتونو په تفکیک باندې استوار دی. پاکستان د فدرالي جمهوري سیسټم له مخې او د انګلیسي استعمار په څخه له هند څخه تر بیلتون او پارټېشن وروسته جوړ شوی چې عمر یې ډېر اوږد نه دی، په پاکستان کې د مرکزي حکومت تر څنګ د ایالتونو یا صوبو حکومتونه شتون لري او تر همدې مرکزي او ایالتي سیسټم لاندې په هر یوه ایالت کې د حکومت درېګونې اصلي قواوې موجودې دي: اجرائیه قوه، مقننه قوه، او قضائیه قوه.

### د پاکستان د حکومت جوړښت

**1. اجرائیه قوه Executive**

**- ولسمشر یا جمهور رئیس**

د پاکستان ولسمشر یا جمهور رئیس د هیواد د تر ټولو لوړ مقام په توګه ګڼل کېږي، خو د ولسمشر رول زیاتره سمبولیک او تشریفاتي دی، د حکومت اجرائیه فعالیتونه د وزیر اعظم یا صدراعظم په لاس کې دي. جمهور رئیس د پارلمان د دواړو مجلسونو د ګډ مجلسله خوا ټاکل کېږي چې له محدودو واکونو سره سره د حکومت په چارو کې د مشورې او سمبولیکو دندو مسؤل دی، د ځینو عالیه مقاماتو، لکه د سترې محکمې د غړو وروستی تائید او دېته ورته په لویو سیاستونو کې دریځ نیونه، د جنګ او متارکې دریځ او په یوې معینې مرحلې او ځانګړو شرایطو کې ولسمشر د پارلمان منحل کولو او د صدراعظم د استیضاح او سلب اعتماد کولو واکونه هم لري.




**- وزیر اعظم یا صدراعظم**

د پاکستان د حکومت اصلي اجرائیوي مشر وزیر اعظم دی، چې د پارلمان د آزادو او اکثریتي ټاکنو له لارې ټاکل کېږي، البته چې صدراعظم معمولاً په پارلمان کې د اکثریت ګوند لخوا کاندیدیږي. وزیر اعظم د حکومت د ټولو اجرائیوي چارو مسؤل دی، د کابینې له وزیرانو سره په ګډه د هیواد ادارې او حکومتي چاري پرمخ وړي. وزیر اعظم د پارلمان لخوا ځارل کیږي چې د پارلمان د باور د له لاسه ورکولو یا سلب اعتماد په صورت کې باید استعفا ورکړي یا به اخلاع کړی شي.

**- کابینه**

کابینه د صدراعظم یا لومړي وزیر په مشرۍ د حکومت د چارو او د پلانونو د تنظیم لپاره مسؤولیت لري. په کابینه کې مختلف سکتوري وزیران، مرستیال وزیران او مشاوران شتون لري چې هر یو د هغوی د تخصصي او مسلکي وړتیاوو او ګوندي باور له مخې د یوې ځانګړې ادارې یا سکتور مسؤلیت لري.

**2. مقننه قوه Legislature**

**- پارلمان:** د پاکستان پارلمان له دوو خونو یعني ملي شورا څخه جوړ شوی دی، سنا یا د مشرانو جرګه او ملي اسمبلۍ یا ولسي جرګه:

**1. ولسي جرګې** ته ملي اسمبلۍ National Assembly هم وايې، د پاکستان د ولسي جرګې غړي د خلکو د مستقيمو رايو او عمومي ټاکنو له لارې ټاکل کېږي. د ملي اسمبلۍ غړي د ۵ کلونو لپاره ټاکل کېږي. د ملي اسمبلۍ غړي د قانون جوړونې، د حکومتي پالیسیو د پراختيا او د پلې کيدو څارنه يې کوي، د وزيرانو د فعاليتونو او اجرااتو څارنه او د هيواد د ملي ګټو لپاره د قوانينو، ميثاقونو، نړيوالو قراردادونو او مقرراتو د جوړونې مسووليت لري.

**2. سنا Senate** د پاکستان د پارلمان د پورته خونې يا مشرانو جرګې په توګه تقنيني او قسماً نظارتي فعاليت کوي، سنا د هر ولايت لپاره ټاکل شوي غړي لري. د سنا غړي د ايالتونو يا صوبو د شوراګانو لخوا ټاکل کېږي، د سنا د غړو کاري دوره ٦ کاله ده. سنا د قوانينو د تاييد او تعديل په چارو کې له ولسي جرګې سره تکميلي برخه اخلي، خو دنده يې غالباً د ملي اسمبلۍ يا ولسي جرګې لخوا د وړاندې شويو قوانينو تاييدول دی.

**3. قضائيه قوه Judiciary**

د پاکستان ستره محکمه يا Supreme Court د هيواد د عدلي سيستم تر ټولو صلاحيتداره مقام دی. د سترې محکمې قاضيان د ولسمشر يا جمهور رئيس لخوا او د پارلمان په تاييد ټاکل کېږي. ستره محکمه د اساسي قانون په شمول د ټولو فرعي او سکتوري قوانينو د تفسير، د اساسي قانون د پلي کولو، او د اتباعو دحقوقو د دفاع قضايي مسووليت لري.

د سترې محکمې د قاضيانو تر څنګ په پاکستان کې په هر ايالت کې لوړې محکمې «مرافعه او تميز» High Courts او هم ضلعي محکمې د ولسوالۍ په کچه District Courts موجودې دي چې په بيلابيلو کچو د قوانينو د تطبيق او هکذا د عدلي او قضايي چارو مسووليت پرمخ وړي.

**4. د پاکستان سيمه ييزه ايالتي يا فدرالي «صوبايي» حکومتونه**

د پاکستان حکومت له څلورو صوبو يا فدرالونو پنجاب، خيبر پښتونخوا، سند، بلوچستان او همدارنګه له يو شمېر فدرالي سيمو يا ادارو Federally Administered Tribal Areas يا FATA څخه جوړ شوی دی. د پاکستان هره صوبه خپل د ايالتي اسمبلۍ مشر يا وزير اعلی لري، چې د اړوند صوبې د ټولو اجرائيوي چارو د تنظيمولو او انجام مسؤليت لري. د صوبايي وزير اعلی ټاکل د هماغه مربوطه صوبې د پارلمان له لارې ترسرهکېږي.

په دې توګه پاکستان يو فدرالي سيستم لري، چې په کې د مرکزي حکومت په شان خپل صوبايي حکومتونه خپل اړوند خپلواکه صلاحيتونه لري.

منتها په ياد بايد ولرو چې د پاکستان فدارلي نظام د دې هېواد د ولسونو په ارادې او عزم ندی ايجاد شوی، دا د انګريزي امپراتورۍ له سناريو سره سم ترتيب شوی، تر څو په راتلونکي کې د دوی تر اغيز تداوم وکړي.

**5. سياسي احزاب**

پاکستان د مختلفو سياسي ګوندونو لکه د پاکستان مسلم ليګ N، پاکستان تحريک انصاف PTI، پاکستان پيپلز پارټیPPP او له ځينو نورو قومي او مذهبيګوندونو په وسيله اداره کېږي. هر ګوند خپل سياسي پروګرام او نظريات لري چې

په اوله مرحله کې په ګوند کې د ننه د ټاکنو او بیا د ګوندې یا آزاد کاندید په حیث اړوند وفاقي یا صوبايې پارلمان ته لاره پیدا کوي.

**د پاکستان د سیاسي جوړښت ځینې ځانګړتیاوې**

سره لدې چې پاکستان د اسلام په نوم له هند راجلا کړی شو او له شروع څخه شدیداً د مذهبي ډلو، علماوو او سکالرانو تر نظر او رسوخ لاندې دی خو بیا هم پدې هېواد کې د ایران په څېر د «ولایت فقیه» یا د «دیني رهبری» او نه هم د افغانستان په څېر د امیرالمومنین د مقام غوندې مذهبي مرجعیت او سیستم چې د واک حدود یې نامشخص وی نشته، برعکس، پاکستان یو خپلواک جمهوري سیاسي سیستم لري چې په کې د اسلام د اصولو په اساس قوانین ترتیبیږي او د ملي او اسلامي ارزښتونو له مخې حکومتي چارې تنظیمېږي.

اساسي قانون Constitution په پاکستان کې د دولتي او حکومتي چارو او معاملاتو لپاره یو تر ټولو بنسټیز سند یا ملي وثیقه ده چې د حکومت جوړښت، د قواوو ترمنځ اړیکې او د اتباعو حقوق او وجایب ټاکي.

**یادونه:** سره لدې چې د پاکستان اصلي واکمن ځواک پوځ او هماغه نامرئي ژورتابه دی خو په جوړښتي لحاظ پاکستان د فدرالي جمهوري سیستم په اساس جوړ شوی دی چې د اجرائیه قوه، وزیر اعظم او کابینې، مقننه قوه یا پارلمان او قضائیه قوه یا سترې محکمې پر بنسټ د وظایفو په تفکیک او استقلالیت سره کار کوي. په دغه سیستم کې د مرکزي حکومت او د ایالتونو ترمنځ صلاحیتونه او واکونه د فدرالي نظام له مخې تقسیم شوي دي، مګر ددې باوجود یو لړ ملي صلاحیتونه او مسوولیتونه مرکزي اداره کیږي.

د پاکستان ایالتي حکومتونه د هیواد د فدرالي سیستم متحد او مهم اجزا دي. پاکستان د ۴ ایالتونو (صوبو) او ځینو نورو ځانګړو سیمو څخه چې د وفاقي ادارې په عنوان دي جوړ شوی دی. هر ایالت خپل سیمه ییز حکومت لري چې د ځانګړو واکونو او مسوولیتونو په درلودو سره فعالیت کوي. البته چې د ایالتي حکومتونو جوړښت او د واکونو حد او حدود یې د پاکستان د اساسي قانون له مخې تنظیم شوی دی. لاندې به په اختصار سره د اړوند فدرالي صوبو معلومات وړاندې کړم.

**1. پنجاب Punjab**

پنجاب د پاکستان تر ټولو لوی او د تر ټولو ډېر نفوس لرونکی ایالت دی، مرکز یې لاهور دی چې د مهمو صنعتي او تولیدي ښارونو په لړ کې راځي. د پنجاب ایالتي حکومت د وزیر اعلی Chief Minister په مشرۍ فعالیت کوي. لکه چې پورته اشاره وشوه د هر فدرال یا ایالت وزیر اعلی د ایالتي پارلمان له لارې ټاکل کیږي همدارنګه د هر ایالت د کابینې غړي د هماغه ایالت د وزیر اعلی لخوا ټاکل کېږي.

د ۲۰۲۳ کال راهیسې د پنجاب صوبه د پاکستان مسلم لیګ N ګوند له خوا اداره کیږي، خو په نورو وختونو کې د مختلفو ګوندونو لخوا هم پکې حکومت اداره شوی دی.

### 2. خیبر پښتونخوا Khyber Pakhtunkhwa

خیبر پښتونخوا د پاکستان په شمال ختیځ کې موقعیت لري او د پښتنو وګړو په اکثریت سره آباد دی، مرکز یې پېښور دی، د خیبر پښتونخوا حکومت هم د وزیر اعلی په مشرۍ تنظیمیږي دا وخت د خیبر پښتونخوا ایالت د پاکستان تحریک انصاف PTI له خوا اداره کیږي.

### 3. بلوچستان Baluchistan

بلوچستان د پاکستان په جنوب لویدیز کې موقعیت لري، دا ایالت د لویو طبیعي منابعو لکه ګاز، تیلو او معدنیاتو څخه برخمن دی، مرکز یې کوټه یا کویټه دی. زیاتره کلونه په بلوچستان ایالت کې د بلوڅ ملتپاله ګوندونو له لوري پرې حکومت شوی، خو ځینې وختونه د مرکزي حکومت لخوا هم د دې ایالت د چارو کنټرول ترسره کیږي ځکه خو پدې ایالت کې د امنیتي بد وضعیت او د ګڼو نورو ستونزو له امله د ایالتي حکومت په وړاندې او هم د مرکزي حکومت د پریکړو او مداخلو په وړاندې بغاوتونه او نور امنیتي مسایل اوج او حتی نظامي تصادم ته رسیدلي دي.

### 4. سند Sindh

سند د پاکستان په جنوبي اړخ کې یو ساحلي ایالت دی چې د کراچۍ ښار یې مرکز دی، دا ښار د پاکستان د اقتصادي ثقل په توګه ګڼل کیږي، کراچۍ د پاکستان تر ټولو لوی، بندري، تجارتي او صنعتي ښار دی، دا وخت د پاکستان پیپلز پارټي PPP د سند ایالت اصلي سیاسي واکمن ګوند دی او تر ډېره یې د دې ایالت په حکومتي چارو او تشکیلاتو کې ستره ونډه درلودلې، همدې ګوند په دې وروستیو کلونو کې د دې ایالت د خیر ښېګڼې، سوکالۍ، اقتصادي ودې او تعلیم په برخه کې مهم پرمختګونه درلودلې، پخوا تر دې د IQM ګوند لخوا دغه صوبه اداره کیده.

### 5. وفاقي اداره شوي سیمې Federally Administered Tribal Areas - FATA

دا سیمې د پاکستان په شمال لویدیز کې موقعیت لري او د قبایلي سیمو په توګه پیژندل کېږي. د دې سیمو قانوني وضعیت او تر ډېره حده، بلکې د سپتمبر (۱۱/۹) څخه وروسته تر ډېره حده یې امنیتي او سیاسي چارې د فدرالي حکومت په لاس کې ورغلې دي، که څه هم پدې وروستیو کې یې زیاته برخه چارې د خیبر پښتونخوا ایالت ته ور انتقال شوې دي، خو د پنجاب له لوري د پوځي تحرکاتو او قرارګاو په سبب ځایي خلک سخت ستومانه او ناراضه دي.

په تیرو ګڼو کلونو کې د FATA فاټا اړوند سیمې د پاکستان د پارلمان او قضائیه قوې له قواعدو څخه مستثنی وې، خو په ۲۰۱۸ کال کې په دې سیمو کې تر یو لړ اصلاحاتو وروسته ټول عدلي او حقوقي مسایل د خیبر پښتونخوا ایالت تر چتر راغلي او دغه سیمې په بشپړه توګه د پاکستان په فدرالي سیسټم کې شاملې شوې دي او هغه پخوانی ایف سي ار FCR دستور پکې معطل شوی.

### 6. کشمیر او گلګت بلتستان

سره لدې چې کشمیر او ګلګت بلتستان د مستقلو یا خودمختاره سیمو په توګه یادیږي خو په حقیقت کې په پراخه توګه یې چارې او اداري تصمیمونه د پاکستان د فدرالي حکومت او پوځ په کنټرول کې دي، ځکه خو دوی د بشپړ ایالتي اعتبار مکانت او حیثیت نه لري. کشمیر د هند او پاکستان ترمنځ د شخړې یوه برخه ده اما لدې سره سره پاکستان په دې سیمه کې خپل حکومت د آزاد کشمیر یا پاکستاني کشمیر په نوم په مختلفو برخو کې تر خپل کنترول او قیومیت لاندې راوستی. هکذا ګلګت «بلتستان» هم د پاکستان د فدرالي اداري لاندې دی، خو د دې سیمې په اړه زیات پېچلې بحثونه او اختلافي مسایل شته، تر څنګ یې د جدایې طلبي او خپلواکۍ خوځښتونه ورځ تر بلې پکې غښتلي کیږي.

### د ایالتي حکومتونو د مسئولیتونو او واکونو محدودیتونه

- د پاکستان د فدرالي سیستم په اساس، ایالتي حکومتونه ځینې ځانګړي خپلواکه واکونه لري، خو د مرکزي حکومت لخوا هم ځینې ملي (دفاعي، امنیتي، اقتصادي، کلتوري او سیاسي)مسایل کنټرول کېږي.
- د ایالتونو د حکومتونو عمده مسوولیتونه د تعلیم، صحت، امنیت، سیمه ییزه اقتصاد او د ځینو نورو سیمه ییزه چارو مدیریت دی. دوی پخپلو سیمه ییزه اجرااتو کې تقریباً خپلواکه دي.
- د ایالتونو حکومتونه د قانون جوړونې لپاره د ایالتي پارلمان څخه کار اخلي، مګر د دوی ټاکنې د مرکزي حکومت په مرسته ترسره کېږي او د مرکزي حکومت د پالیسۍ مطابق یې د تقنیني چارو پرمخ وړل او اجرا کول اړین دي.


**یاددښت:** د پاکستان ایالتي حکومتونه د هیواد د فدرالي سیستم له مخې جوړ شوي دي. هر ایالت خپل مستقلحکومت، مستقل تشکیلات، وزیر اعلی، او پارلمان لري، خو بیا هم د فدرالي حکومت لخوا په ځینو لویو مسایلو کې ترینه ځارنه او استجواب ترسره کېږي. ډیرۍ وختونه د ایالتونو ترمنځ د اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي مسایلو په اړه همغږي او همکارۍ ته اړتیا وي چې پدې توګه پر مرکزي حکومت او وفاقي پارلمان د صوبایې حکومتونو اتکا زیاته شوې ده او هغه عمده استقلالیتونه یا فدرالي جوړښت، څنګه چې په فدرالي وصف او اصولو کې راغلې هغسې ندی پاته شوې.
د پاکستان وفاقی او ایالتي پارلمانونه د پاکستان د حکومتي جوړښت اساسي برخې دي چې د قوانینو جوړولو، دحکومت له چارو نظارت او څارنه او د عام ولس او خلکو د غوښتنو نمایندګي او استازیتوب کوي. د پاکستان مرکزي پارلمان د فدرالي سیستم له مخې د مرکزي حکومت د ادارو اړوند قوانین جوړوي، او ایالتي پارلمانونه د خپلو ایالتونو په دننه کې د قوانینو جوړولو، نظارت او د ایالتي د چارو د ترسره کولو خپل ځانګړې صلاحیتونه او مسوولیتونه لري.

### 1. د پاکستان وفاقی پارلمان Federal Parliament

د پاکستان وفاقي پارلمان د مرکزي حکومت لپاره د قوانینو د جوړولو او توشیحي طی مراحلو لپاره د ملک په کچه تر ټولو بنسټیزه اداره ده. لکه چې مو پورته تشریح کړه د پاکستان مرکزي پارلمان دوه خونې لري: د دواړو خونو یا جرګو د غړو شمېر ۴۳۶ دی (۳۳٦ ولسي جرګه، ۱۰۰ مشرانو جرګه یا سنا).

**الف، ملي اسمبلۍ National Assembly**

- ملي اسمبلۍ د پاکستان د پارلمان ټیټه حاکمه خونه یا زمونږ په تعبیر ولسي جرگه یې ده. د ملي اسمبلۍ غړي د مستقیمو ټاکنو له لارې ټاکل کېږي. د هرې ټاکنې دوره ۵ کاله ده. په ملي اسمبلۍ کې د ټولو غړو شمېر ۳۳٦ غړي دي، چې لدې جملې ٢٦٦ غړي د عمومي ټاکنو له لارې ټاکل کېږي، ۱۰ غړي د اقلیتونو یا لیږکیو لپاره ځانگړي (اختصاص) شوي دي، او پاتې ٦۰ سیټونه یې د ښځو لپاره ځانگړې شوي دي.
- د ملي اسمبلۍ د غړو انتخابونه یا ټاکنې د پاکستان د خلکو له خوا په مستقیمو، سري او عمومي انتخاباتو کې ترسره کېږي او پدې توگه دوی د خپلو خلکو په استازیتوب د پاکستان د حکومت د قوانینو په جوړولو کې برخه اخلي.
- د ملي اسمبلۍ غړي د وزیر اعظم، د کابینې د غړو، او د قوانینو د تصویب په اړه بحثونه او هم د حکومت له چارو او فعالیتونو څارنه او نظارت ترسره کوي.
- د ملي اسمبلۍ د رئیس ټاکنه د پارلمان د اکثریت غړو لخوا ترسره کېږي چې د پارلمان مدیریتي چارې پرمخ وړې د عمومي مجالسو او پریکړو په هکله خپل انتظامي، څارنیزه او د قوانینو په اړه له روانو بحثونو څخه وارسي کوي.



**ب، سنا Senate**

- د سنا مجلس یا د پارلمان د پورته خونې (مشرانو جرگې) غړي د ایالتونو د نمایندگۍ او سیټونو له مخې ټاکل کېږي.
- د سنا مجلس ۱۰۰ غړي لري (٦٢ سیټونه انتخابي، ۱۷ د تکنوکراتانو انتصابي، ۱۷ د میرمنو، ۴ د لیږکیو) چې د څلورو صوبو یا ایالتونه (پنجاب، خیبر پښتونخوا، سند، او بلوچستان) او هم یې یو شمېر غړې د خاصو سیمو او قبایلي علاقه جاتو څخه ټاکل کیږي.
- د سنا مجلس غړي د اړوند ایالتي پارلمانونو له لارې او یو شمېر یې د ایالتي مقاماتو له لورې ټاکل کېږي. د سنا یا مشرانو جرگې غړي د ٦ کلونو لپاره ټاکل کېږي، او د دې غړو یوه دریمه برخه هر دوه کاله وروسته بیا نوي کېږي.
- د سنا اصلي دنده د ملي اسمبلۍ لخوا د تصویب شویو قوانینو تاییدول او په مجموع کې په تقنیني پروسې کې برخه اخیستل دي.
- د سنا د مشر ټاکنه د سنا د اکثریت غړو له لوري ترسرهکېږي.



### 2. د پاکستان ایالتي پارلمانونه Provincial Assemblies

مخکې مو یادونه وکړه چې پاکستان عملاً تر یوه ځانګړې فدرالي سیستم لاندې اداره کېږي چې پکې د هر ایالت لپاره خپل ایالتي پارلمان شته د ایالتي پارلمانونو د جوړښت او رول په اړه لاندې معلوماتي توضیحات اړین دي:



د فیض محل قصر 1

### 1. د پنجاب ایالتي پارلمان Punjab Provincial Assembly

- د پنجاب ایالتي پارلمان د ۳۷۱ غړو څخه جوړ دی.
- د ایالتي پارلمان غړي د مستقیمو ټاکنو له لارې ټاکل کېږي او د ټاکنو دوره ۵ کاله ده.
- د پنجاب ایالتي پارلمان د خپل وزیر اعلی ټاکنه د غړو د آراو په اکثریت ترسره کوي، چې په همدې ترتیب نوموړی د صوبایې ادارې مسوولیتونو ترڅنګ د ایالتي حکومت د قوانینو په جوړولو کې خپل مسوولیت ترسره کوي.
- د ایالتي پارلمان غړي د خپل ایالت د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو، تعلیمي، روغتیایي، خدماتي، امنیتي، د قوانینو په تطبیق، عدالت، اجتماعي نظم، ټرانسپورټي خدمتونو او ګنو نورو حقوقي چارو کې خپل نقش ادا کوي او لازم تصامیم نیسي.

### 2. د خیبر پښتونخوا ایالتي پارلمان Khyber Pakhtunkhwa Provincial Assembly

- د خیبر پښتونخوا ایالتي پارلمان د ۱۲۴ غړو څخه جوړ شوی دی.
- د دې ایالتي پارلمان غړي هم د ټولو نورو ایالتي پارلمانونو د غړو د ټاکنې په څېر د مستقیمو ټاکنو له لارې ټاکل کېږي، خیبر پښتونخوا ایالتي پارلمان د خپل وزیر اعلی د ټاکلو او د ایالتي حکومت د نورو حکومتي، حقوقي او ولسیچارو لپاره د قوانینو د جوړولو مسؤلیت لري.
- د ایالتي پارلمان غړي د خپل ایالت د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو، تعلیمي، روغتیایي، خدماتي، امنیتي، د قوانینو په تطبیق، عدالت، اجتماعي نظم، ټرانسپورټي خدمتونو او ګڼو نورو حقوقي چارو کې خپل نقش ادا کوي او لازم تصامیم نیسي.
-

### 3. د بلوچستان ایالتي پارلمان Baluchistan Provincial Assembly

- د بلوچستان ایالتي پارلمان د ٦٥ غړو څخه جوړ شوی دی. طبعاً د بلوچستان ایالتي پارلمان هم د مستقیمو ټاکنو له لارې ټاکل کېږي. د نورو صوبو په شان د بلوچستان د ایالتي پارلمان غړي د خپلې صوبې د وزیر اعلی ټاکنه کوي، او د ایالت د چارو او قوانینو لپاره قانین جوړوي.
- د ایالتي پارلمان غړي د خپل ایالت د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو، تعلیمي، روغتیایي، خدماتي، امنیتي، د قوانینو په تطبیق، عدالت، اجتماعي نظم، ټرانسپورټي خدمتونو او ګڼو نورو حقوقي چارو کې خپل نقش ادا کوي او لازم تصامیم نیسي.

### 4. د سند ایالتي پارلمان Sindh Provincial Assembly

- د سند ایالتي پارلمان د ١٦٨ غړو څخه جوړ شوی دی، طبعاً د سند ایالتي پارلمان هم د مستقیمو ټاکنو له لارې ټاکل کېږي. د نورو صوبو په شان د سند د ایالتي پارلمان غړي د خپلې صوبې د وزیر اعلی ټاکنه کوي، او د ایالت د چارو او قوانینو لپاره قانین جوړوي.
- د ایالتي پارلمان غړي د خپل ایالت د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو، تعلیمي، روغتیایي، خدماتي، امنیتي، د قوانینو په تطبیق، عدالت، اجتماعي نظم، ټرانسپورټي خدمتونو او ګڼو نورو حقوقي چارو کې خپل نقش ادا کوي او لازم تصامیم نیسي.



*موتای محل په کراچی کی2*

**د ایالتي پارلمانونو مسوولیتونه او واکونه**

- په هر فدرال کې د هغوې ایالتي پارلمانونه د قوانینو په جوړولو، د خپل ایالت د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو، تعلیمي، روغتیایي، خدماتي، امنیتي، د قوانینو په تطبیق، عدالت، اجتماعي نظم، ټرانسپورټي خدمتونو او ګڼو نورو حقوقي چارو کې خپل نقش ادا کوي او لازم تصامیم نیسي.
- د ایالتي پارلمان غړي د ایالت د ټولنیزو او اقتصادي چارو په اړه د قوانینو، مقرراتو، اصولنامو، کړنلارو او د تقنیني مصوباتو په جوړولو کې له نورو اړوند جوړښتونو او موسساتو Institutions سره برخه اخلي.
- ایالتي پارلمانونه د خپلو ایالتونو د وزیر اعلی او کابینې د ټاکنې او د هغوی د کارونو څارنه کوي.
- ایالتي پارلمانونه په ځانګړي ډول د ایالتونو د اړتیاو او ځانګړو شرایطو مطابق مصوبې جوړوي او په سرنوشت سازه مسایلو کې، لکه د ایالتي حکومت منحلول، د وزیر اعلی او ګورنر د سلب صلاحیت یا داسې نورو سترو موضوعاتو په اړه لازم تصامیم نیسي.

*یاددښت: لکه څنګه چې مو واضح کړه، د پاکستان حکومتي او پارلماني جوړښتونه د فدرالي اصولو له مخې جوړ شوي دي چې په مرکزي کچه د ملي اسمبلۍ او سنا تر څنګ، هر ایالت خپل ایالتي پارلمانونه هم لري. د وفاقي پارلمان غړي د ملی قوانینو جوړولو، د حکومت د چارو د څارنې او په کورنۍ او بهرنۍ سیاست جوړونې کې ټاکونکی نقش لري.*

*پداسې حال کې چې ایالتي پارلمانونه د خپلو ایالتونو په حدودو کې د ځانګړو قوانینو جوړولو، د سیمه ییزه چارو د څارنې او د نیول شویو تصمیمونو د پلي کولو مسؤلیت لري.*

*د پاکستان ایالتونه د فدرالي سیستم په اساس خپل ځانګړي سیاسي او اقتصادي صلاحیتونه لري. د پاکستان د اساسي قانون Constitution of Pakistan له مخې، د ایالتونو د حکومتونو صلاحیتونه مشخص شوي دي. د ایالتي حکومتونو د ټاکل شویو صلاحیتونو هدف دا دی چې هر ایالت د خپلو سیمو د ځانګړو اړتیاوو او شرایطو پر بنسټ د خپل ایالت یا صوبې د رفاه، پرمختګ، عدالت، امنیت، کلتوري ودې او تعلیمي پراختیا په هکله تصمیمونه ونیسي.*

د ایالتونو سیاسي او اقتصادي صلاحیتونه په څو برخو کې تقسیم شوي دي، چې لاندې یې تفصیل دی:

### 1. سیاسي صلاحیتونه Political Powers

ددې باوجود چې پاکستان د فدرالي سیستم او چتر لاندې حکومتدارۍ پرمخ وړي، خو پکې د ایالتونو او د مرکزي حکومت ترمنځ د واکونو تقسیم او تفکیک هم شتون لري. د ایالتونو سیاسي صلاحیتونه په لاندې برخو کې مشخص شوي دي:

#### الف، د ایالتي پارلمان جوړونه

د پاکستان د اساسي قانون مطابق، هر ایالت د خپل ایالتي پارلمان د جوړولو حق لري تر څو د قوانینو د جوړولو تر څنګ د ایالتي حکومتونو له چارو څارنه وکړي. ایالتي یا صوبایي پارلمانونه د خپلو اړوندو صوبو د وزیر اعلی ټاکنه ترسرهکوي، صوبایي وزیر اعلی یا واکدار د ټول ایالت په کچه د اجرائیوي چارو مشر وي څنګه چې پورته اشاره وشوه پخپله وزیر اعلی د ایالتي پارلمان د غړو لخوا ټاکل کیږي. ایالتي پارلمان د ایالت د ټولو مهمو قوانینو د تصویبولو او د ایالتي حکومت د کارونو د څارنې مسوولیت او صلاحیت لري.

#### ب، قانون جوړونه

د ایالتونو پارلمانونه د ایالتي قوانینو جوړولو صلاحیت لري تر څو اړوند قوانین، مقررات او تقنیني اسناد د اړوندو صوبو د ایالتي اړتیاوو، ټولنیزو مسایلو، او نویو پرمختګونو او انکشافي چارو ته ځواب ویونکی اووسي.

#### ج، د حکومت نظارت او د اجرااتو څارنه یې

ایالتي پارلمانونه د خپلو اړوند ایالتي حکومتونو د فعالیتونو څارنه کوي. د وزیر اعلی، کابینې د ټاکنې او په اړوند صوبو کې د حکومتي ادارو د کارونو په اړه لازم تصامیم نیسي او له اجرائیوي رسمي چارو څارنه کوي.

د ایالتي پارلمان غړي د حکومت د فعالیتونو په اړه سوالونه او بحثونه ترسره کوي، د استجواب او استیضاح مجلسونه جوړوي او لازم تصمیمونه نیسي. دوی د خلکو او دولت ترمنځ د ارتباطي پُل په حیث وساطت کوي، د ولس غوښتې له حکومت سره شریکوي او د لازمو تسهیلاتو، حقوقي او عدلي چارو په هکله ورسره همکارئ کوي.

**د، د انتخاباتو ترسره کول**

- د ایالتونو پارلمانونه د ایالتي ټاکنو د ترسره کولو مسؤلیت لري. دغه ټاکنې د ایالت د خلکو لخوا په نېغه، پټه او ډله ییزه یا عمومي ډول ترسره کېږي.

**2. اقتصادي صلاحیتونه Economic Powers**

د ایالتونو د اقتصادي ښیرازئ، بهبود او پراختیا په اړه خپل قانوني صلاحیتونه لري، ایالتي حکومتونه د اساسي قانون له مخې د مرکزي حکومت سره شریک دي، مګر ایالتونه د ځینو ځانګړو اقتصادي چارو د تنظیمولو لپاره ځانګړې آزادئ او خپلواکه واکونه هم لري، لکه:

**الف، د ایالتي حکومت د اقتصادي چارو تنظیمول**

ایالتونه د ځایي اقتصاد لپاره د قوانینو جوړولو او د خپلو پروژو د ډیزاین او تطبیق واک لري. که دا پروژې په کرنې، صنعت، تجارت او د نورو سکتورونو په کچه وي، د ټولو پروژو د پلانګذارئ، د اداري او تدارکاتي چارو د تنظیمولو او طی مراحل کولو او دیته ورته په ټولو انکشافي پلانونو کې، د خپلو بودجوي امکاناتو په حدودو کې د ایالتي حکومتونو کارونه شامل دي. هکذا ایالتونه د خپلو اقتصادي شرایطو مطابق د محلي صنعتونو او اقتصادي پلانونو په پراختیا کې له مرکزي حکومت سره هم برخه اخلي.

**ب، د مالیې سیستم تنظیم او پکې تصرف**

ایالتونه کولی شي ځینې مالیاتي سرچینې لکه عایدات، مالیات او ګمرکات تنظیم او تحصیلکړي، مګر د مالیاتو د کچې تعین د مرکزي حکومت لخوا د فدرالي مالیاتو له نورمونو سره سم جمع آوري او تنظیمیږي. معلومه دې وي چې د ایالتونو لپاره د عایداتو او د ګمرکاتو د چارو تنظیم او وېش معمولاً له مرکزي حکومت سره په همغږئ ترسره کیږي.

**ج، د طبیعي منابعو، معدني زیرمو او سرچینو مدیریت**

ایالتونه د خپلو طبیعي منابعو او سرچینو لکه ګاز، تېل، کانونه او د ځمکې سطحي منابعو د مدیریت او په اړه یې د قوانینو او اصولنامو د جوړولو صلاحیت لري. همدارنګه د ایالتي منابعو اداره د اړوند ایالت د اقتصادي پرمختګ لپاره مهمه منبع او سرچینه ده تر څو خپل اړوند حکومتي چارې مخارج او د ایالت د پرمختګ چارې او انکشافي پلانونه پرې تطبیق شي. طبعاً چې صوبایي حکومتونه د خپلو سرچینو په اړه بشپړ صلاحیت او مالکیت لري.

**د، د ایالتي ودانیو او زیربناوو جوړول**

ایالتونه د خپلو اړتیا او لزومدید له مخې هر ډول زیربنایې پروژې پلانولی او پلې کولی شي، لکه د سړکونو، پلونو، ښوونځیو، روغتیایي مرکزونو او نورو عامه خدماتو د جوړولو او هم د هر ډول پراختیایې برنامو په اړه د خپلو مالي منابعو په هکله د دخل او خرج واک لري.

**هـ د ځایي تولیداتو ملاتړ**

ایالتونه د زراعت، صنعت او تجارتي فعالیتونو په برخه کې د ځایي تولیداتو د پراختیا لپاره د تګلارو جوړولو او پالیسۍ ترتیبولو بشپړ واک او هم یې په هکله د بودجې د تخصیص صلاحیت لري.

**3. د ایالتي حکومتونو محدودیتونه**

که څه هم د ایالتونو سیاسي او اقتصادي صلاحیتونه په ګڼو برخو کې په پراخه او ځوابده توګه شتون لري، خو د پاکستان د اساسي قانون له مخې ځینې محدودیتونه هم پر ایالتي حکومتونو شته، لکه: - ایالتونه د مرکزي حکومت له اجازې پرته ځینې تصمیمونه نه شي نیولی، په ځانګړي توګه په هغو برخو کې چې د مرکزي حکومت د واکونو او صلاحیتونو په زمره کې ارځي لکه د جنګ او متارکې دریځ، د دفاع، خارجي سیاست، او د بین المللي اړیکو د څرنګوالي په اړه، تر څنګ یې ایالتونه نشي کولی د اساسي قانون خلاف قوانین جوړ کړي. معلومداره ده چې ځینې مسایل لکه د فدرالي مالیې ټاکنه، د فدرالي مالیاتو راټولونه، د دفاعي سیاست تنظیمول او د هېواد په کچه د بهرني سیاست د خط مشي ټاکنه د مرکزي حکومت ځانګړي صلاحیتونه دي.

**ماخذونه:**


- پاکستان، لیکوال ویلیام ګودوین، ترجمه، فاطمه شاداب
- www.go2tr.com/Pakistan
- https://images.app.goo.gl/1iPYNtTHoskfWHTm8
- https://fa.wikipedia.org/wiki/پاکستان
- دین و سیاست در پاکستان، سید حامد موسوی
- نگاهی به پاکستان، سید موسوی حسینی
- بررسی مقایسه ای سیاست خارجی ایران و پاکستان در قبال افغانستان، محمدقاسم دانش بختیاری